# د ۸ صبح

د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زېری

## پښــــــــــتو مجله

لومړی کال ◆ ۲۴ مه گڼه ◆ شنبې، د ۱۳۹۹ د سلواغې ۴مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ

**د افغانستان پر سیاسي فضا یوه تازه ساه:**

**ولسمشر غني:** ولسمشر جوبایدن ته په دې تاریخي ورځ، د یوه نوي پیل لپاره مبارکي وایم!

**علي احمد جلالي:** د منطقې په چوکاټ کې دې د افغانستان حل ولټول شي. د سیمې د همکارۍ پراساس حللاره راوځي!

**اریانا سعید:** ښاغلی ولسمشر جوبایدن! مبارک مو شه! خو هیله ده افغانستان او بیا په تېره د ښځو حقونه له یاده ونه باسئ!

**امریکې نوی بهرنیو چارو وزیر:** که- د طالبانو امریکې- هوکړې سره، تېرې لاسته راوړنې خوندي نشي، هېڅ ارزښت به ونلري!

عکس له تولنیزو شبکو کاپي شوي دي.



## سرکرښې

### امارت که جمهوریت یا یې موقت!؟

جمهوریت (په فلسفي او ټولنیزه معنا) یعني دا چې؛ افغانستان- په څه فکر و باور، چې دی، خوندي به وي؛ یعني افغان ملت- څرنګه چې دی، او څرنګه چې غواړي وي- د سوله ییز او امن ژوند، برخه به یې نصیب وي؛ او داسې به یوه یوه کورنۍ جوړېږي، او بیا په تېره ددې دېرش- څلوېښت مېلیونه وګړو- د یوه یوه- سر، فکر او مال به خوندي وي!

کوم ښکر او کاږه ښاخونه، یا بریتونه یا ږیرې او هر راز ککړتیاوې- چې موږ یې دا اوس پخپله سیاسي جغرافیا شاهدان یاستو، دا له جمهوریته مه ګڼئ، دا ټولې ککړتیاوې، ناولتیاوې، کږې کړنې، ناوړه چلندونه، او خوسا عملونه، د هغو نفسي څلوربولو، د ارادې او عمل، شنه محصولات دي، چې د جمهوریت تاج یې پر سر ترلی او د هېواد او خلکو په غوښو، بېحسابه بېزنسونه کوي!

د ولس پر وجود، ذهن، عاطفه او روان، دا نیمه پېړۍ بار (کورجنګ)، ورسره په خوا کې موروثي، عادتي ناروغه او بیا ټیټه ولسي پوهه، او هغې رامنځته کړې واکمن ذهني معلولیت، او سربېر پر هغو، پر ذهن و روان د انبار خوارځواکې، بېروزګارۍ تیارې، کله ناکله ددې لامل شي، چې (ناچار ولس!) دا اواز اوچت کړي: سوله؛ ولو که په هره بیعه وي!!

چا وېل: موږ قبرستاني سوله غواړو! رښتیا ده؛ په مړستان کې، بشپړه سوله برقراره ده!!

خو موږ ژوندي یو! او چې غټه ونه وایم، ښایي تر نورو لا ډېر ژوندي یو. موږ ژوند غواړو- او لا ښه ژوند غواړو!

موږ آزادي او د خپلې ازادۍ خوندیتوب غواړو، خو دا خوندیتوب، چې د (وګړي) لپاره نه وي، بیا نو داسې شوه؛ لکه کاڼي چې د غره پر ډډو ویده پراته وي؛ او خدای خبر د کوم تېر او تمدن سنګتراشان، د خپلو ذوقونو مجسمې تري تراشي؛

بیا نو داسې شوه، لکه کور- کلی او د دنیا لوی وطن چې ولرې؛ خو خپل فکر، انتخاب دریځ او خپلې خوښې عمل چې ونلرې!

ښایي زموږ یوه تاریخي ورکه، د وګړي (فرد) نه خوندیتوب او نه آزادي وي!

ښایي د جګړې، شخړې او بحران، دا (کوروطن)، اصلا د وګړي په ازادۍ پسې لیونی وي!!

ښایي د قومي، ژبنیو، سیمه ییزو او توکمیزو- پټو او ښکاره، نارضایتونو بنسټیز لامل، د (وګړي) نه خوندیتوب او نه آزادي وي!!!

خو که جمهوریت نه وي، څه ډول حکومتي چوکاټ به، ددې خواږه وطن، یوه یوه بچي ته د خپل فکر، آزادۍ، شخصیت او ګټو ځلېدلو ته بستر رامنځته کړي!!!

ددې مات و ګوډ جمهوریت لویه لاسته راوړنه، د یوه یوه افغان انسان د چیغې پورته کېدل دي؛ چې تاریخ کې یې بېلګه نه ده لیدل شوې!

جمهوریت، د دېرش مېلیونه فکرونو، باورنو رنګین ارکستر دی؛ نو بدیل یې نشته!

## لیکلړ


● د جوبایدن له حکومته د افغانانو هیلې ........ ۱
● د بین الافغاني مذاکراتو ټکنی بهیر ........ ۲
● استرالیا وایي طالبان باید اوربند ومني، چې د افغانانو غوښتنه ده ........ ٤
● د امریکایي ځواکونو د شمېر کمول ........ ٥
● افغانستان او د السوالوادور د سولې ترون درسونه ........ ٦
● د افغانستان زعفرانو لومړی ځای خپل کړ ........ ۹
● لنډۍ ........ ۱۰
● نېکتایي = ډیموکراسي!!! ........ ۱۱
● د رسنیو، مدني او بشري حقونو د فعالینو ترور د افغانستان ........ ۱۲
● ماتېدونکی جبر ........ ۱٤
● د بودیجې پر سر جنجال؛ ولسي جرګې یو ځل بیا د بودیجې سند رد کړ ........ ۱٦
● ولسمشرغني: د دولتي کارکوونکو د معاشونو برابرۍ طرحه دې وارزول شي ........ ۱۸
● په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې یو شمېر سرتیرې له پوځي زده کړو فارغ شول ........ ۱۹
● د نورستان بېځایه شوې کورنۍ له ګڼو ستونزو سره مخامخ دي ........ ۲۰






د ۸ صبح له نشراتو څخه:
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: ا.و.سمندر
سکرتر: محمد ظریف صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان



0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

# د جوبایدن
# له حکومته د افغانانو هیلې

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظ. صمیم

د امریکا د متحده ایالتونو نوي ولسمشر، (جوبایدن) د سلواغې په لومړۍ نېټه، په داسې حال کې ددغه هېواد د ۴۶م ولسمشر په توګه لوړه وکړه، چې په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو شمېر ترټولو ټیټې کچې (۲۵۰۰تنو) ته رسېدلی دی.

اخوا، د افغانستان د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح ویلي چې کابل د امریکایي ځواکونو د شمېر کمېدو ته اندېښنه نلري.

تر دي مخکې ولسمشر محمد اشرف غني هم د امریکایي ځواکونو د شمېر د کمښت په غبرګون کې، د کابل او واشنګټن ترمنځ پر همغږۍ ټینګار کړی دی.

ښاغلي غني له سي ان ان تلوېزیون سره په مرکه کې ویلي ؤ «له افغانستانه د امریکایي پوځیانو د وتلو طرحه باید د دواړو هېوادونو د ګټو پر اساس جوړه شي!»

یو شمېر افغانان د افغانستان په اړه د امریکا د نوي حکومت د پرېکړو په تمه دي.

په افغانستان کې ځینې سیاسي او مدني فعالان هیله لري چې ښاغلی بایدن به د افغانستان د جګړې د پایته رسېدو، په خوا کې د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنو خوندیتوب ته پاملرنه وکړي.

دغه شان د ښځو د حقونو ګڼشمېر فعالینې په افغانستان کې د ښځو د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنو پر خوندیتوب ټینګار لري.

خو طالبان بیا د امریکا له نوي ولسمشر جوبایدن څخه غواړي ددغې ډلې او امریکا ترمنځ د دوحې موافقې ته- چې ولسمشر غني له ابهامه ډکه تعریف کړې- ژمن پاتې شي! د امریکا او طالبانو ترمنځ د ۲۰۲۰ زېږدیز کال د فبرورۍ په ۲۹مه، په قطر کې د سولې هوکړه لاسلیک شوه.

جوبایدن د خپلو ټاکنیزو کمپاینونو پر مهال، په افغانستان کې د امریکا د پوځي ماموریت په اړه ډېر څه نه دي ویلي.

ښایي د امریکا نوی ولسمشر جوبایدن په راتلونکو ورځو کې د افغانستان په اړه د خپلې اداري خپل نوې تګلاره هم اعلان کړي.

د ویلو ده چې د امریکا له نوي اداري دا غوښتنې په داسې حال کې مطرح کېږي چې په افغانستان کې ورځ تر بلې د جګړې لمن پراخېږي.

که څه هم چې د افغان دولت او طالبانو مرکچي پلاوي، د سولې مذاکراتو پیلولو په نامه دوحې ته رسېدلي، خو د څو ورځو له تېرېدو سره سره، تردې دمه د مذاکراتو پر اجندا جوړه نه ده شوې!



# د بین الافغاني مذاکراتو ټکنی بهیر



◆ **لیکنه: حسیب بهش**
◆ **ژباړه: م. ظ. صمیم**

د بین الافغاني مذاکراتو د دوهم پړاو له پیلېدو کابو دوې اونۍ تېرېږي. ددغه بهیر له بیا پیل سره سره، د سولې په خبرو کې د پام وړ پرمختګ نه دی شوی. له اوږدې مودې وروسته، د دواړو پلاویو لږ شمېر غړو د مرغومي په ۲۸مه سره وکتل. ټاکل شوې وه چې په دغه کتنه کې د مذاکراتو د دوهم پړاو لپاره د دواړو لوریو د راتلونکو پروګرامونو په اړه خبرې اترې وشي. ځینې سرچینې وايي چې د سولې مذاکراتو بهیر په امریکا کې د سیاسي بدلونونو له امله، غځند پرمخ ځي. په دې توګه ښايي چې د مذاکراتو دوهم پړاو سپینې ماڼۍ ته د جوابېدن له ورتلو سره هم مهاله چټک شي. له بلې خوا، طالبانو له پاکستانه د خپل پلاوي د مشرانو له ورستنېدو وروسته د افغانستان د سولې لپاره د امریکا له ځانګړي استازي او د قطر له چارواکو سره کتنو ته دوام ورکړی دی. له زلمي خلیلزاد سره ددې ډلې د پلاوي د بحث موضوع د طالب بندیانو خلاصون او له تور نوملړه ددغې ډلې ایستل بلل شوي دي. دا کتنې په داسې حال کې کېږي چې په هېواد کې تاوتریخوالی زیات شوی او په دې اړه په ملي او نړیواله کچه اندېښنې ډېرې شوې دي.

د دولت او طالبانو د مرکچي پلاویو غړو د مرغومي په ۲۸مه نېټه په قطر کې سره وکتل. په دوحه کې ځینو سرچینو په دې اړه ۸صبح ته ووېل چې د دواړو لوریو د پلاویو لږ شمېر غړو په دغه ناسته کې ګډون درلود. ددې کتنې موخه، د سولې د بین الافغاني مذاکراتو د دوهم پړاو د راتلونکو پروګرامونو تنظیمول بلل شوي دي. دغه ناسته د مذاکراتو په دې پړاو کې د دواړو لوریو ترمنځ دریمه کتنه ده. د طالبانو د سیاسي دفتر د مرستیال او د مرکچي پلاوي د مشر په ګډون د طالب پلاوي اصلي غړي دوحې ته ورسېدل. په وروستیو ورځو کې، د دولت او طالبانو د مرکچي پلاویو مشرانو دوه ځله سره وکتل.

د ویلو ده چې ټاکل شوې وه د دواړو لوریو ترمنځ دریمه کتنه قطر ته د طالب پلاوي د مشرانو په ورستنېدو ترسره شي، خو دا ناسته لومړی د مرغومي ۲۶مې او بیا ۲۷مې ته وځنډېده.

**له تاوتریخوالي سره په یو وخت؛ له خلیلزاد سره کتنه، طالبان د خپلو بندیانو پر خلاصون ټینګار لري**


د سولې مذاکراتو په بیا پیلېدو سره، د افغانستان د سولې لپاره د امریکا ځانگړی استازی زلمی خلیلزاد هم قطر ته ورسېد او د دواړو لوریو له پلاویو سره یې وکتل. د سرچینو په وینا، خلیلزاد په دوحه کې د دولت او طالبانو له مرکچي پلاویو سره د ځینو موضوع گانو په اړه بحث او خبرې کړې دي. که څه هم سرچینو له خلیلزاد سره د دولت د مرکچي پلاوي د کتنې جزیات نه دي ورکړي، خو طالبانو ویلي چې د افغانستان د سولې لپاره د امریکا له ځانگړي استازي سره په کتنه کې یې ددې ډلې د پاتې بندیانو پر خلاصون او له تور نوملړه د طالبانو پر ایستلو ټینگار کړی دی.

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم، د مرغومي په ۲۸مه پر خپله ټویټر پاڼه ولیکل چې ددې ډلې پلاوي دوه ځله له خلیلزاد سره وکتل. د افغانستان د سولې لپاره د امریکا له ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد او د امریکایي او ناټو ځواکونو له عمومي قوماندان سکاټ مېلر سره په لومړۍ کتنه کې ددې ډلې د پلاوي غړو ټینگار کړی چې باید د دوحې موافقې د اجرا په تېره بیا ددغې ډلې د پاتې بندیانو د خلاصون او له تور نوملړه د طالبانو د نوم د ایستلو په اړه گامونه پورته شوي وای؛ ځکه د طالبانو په باور، ددې موضوع نه وروستي کېدو د سولې مذاکراتو پر بهیر منفي اغیزه کړې ده. په دوهمه کتنه هم د طالبانو، امریکا او قطر پلاویو خبرې سره وکړې. محمد نعیم ووېل چې په دې ناسته کې، د سولې د هوکړې د اجرا او د افغانستان د اوسني وضعیت په اړه بحث شوی دی. د محمد نعیم په تویت کې راغلي لوریو د خبرو له لارې د مسایلو پر حل ټینگار وکړ او وې ویل چې باید ټول اړخونه خپل مسوولیتونه ترسره کړي.

دا په داسې حال کې دي چې د یخنۍ موسم له رارسېدو سره سره په هېواد کې تاوتریخوالي زیات شوی دی. له بلې خوا، نړیوالې ټولنې د مرغومي په ۲۸مه د سولې له بهیره په ملاتړ کې د اجماع د پیاوړتیا په نوم مجازي ناسته کې، یو ځل بیا د جگړې او تاوتریخوالي پر بندولو، د عمومي اوربند او د اوسني کړکېچ د اواري لپاره د سیاسي حل لارې پر لټولو ټینگار وکړ. د ملي روغې جوړې عالي شورا د یوې اعلامیې په خپرولو سره جوته کړې چې د بهرنیو هېوادونو استازو په دغه ناسته کې د تاوتریخوالي زیاتوالي او د هدفي وژنو دوام غندلی او ددې ناوړه بهیر د پای ته رسولو غوښتونکي شول. په دغه ناسته کې همدارز د سولې له هڅو، د مذاکراتو له چټکتیا او په دې بهیر کې د افغانانو پر مشرۍ ټینگار شوی دی.

د مهال وېش له مخې، باید د سولې د بین الافغاني مذاکراتو دوهم پړاو د مرغومي په شپاړسمه پیل شوی وای. له بلې خوا، ځینې موردونه له هغې جملې له پاکستانه دوحې ته د طالبانو د مرکچي پلاوي د یو شمېر غړو په ستنېدو کې ځنډ ددې لامل شو چې دا بهیر په ځنډ سره پیل شي له همدې امله، د دوهم پړاو مذاکراتو مقدماتي ناسته په ځنډ ترسره شوه. په لومړۍ ناسته کې پرېکړه وشوه چې د دواړو لوریو کاري ډلې د اجنډا د برابرولو په اړه بحثونو ته دوام ورکړي. خو د دواړو لوریو کاري ډلو له هغې ناستې وروسته، یوازې یو ځل سره کتلي دي. له دې مخکې هم ځینو سرچینو ویلي و چې طالبان سپینې ماڼۍ ته د جوبایډن د لارې موندلو په تمه دي او له همدې امله د مذاکراتو دوهم پړاو په جدي توگه پرمخ نه دی تللی.






# استرالیا وايي طالبان باید اوربند ومني، چې د افغانانو غوښتنه ده

◆ **راپور: محمد عزیز پردېس**

د استرالیا لومړي وزیر سکاټ موریس له افغان ولسمشر محمد اشرف غني سره د روان کال د مرغومې په ۲۹مه نېټه په ټلیفوني خبرو کې په افغانستان کې پر اوربند ټینگار وکړ او دغه راز یې روانې هدفي وژنې په کلکه وغندلې.

له ولسمشرۍ ماڼۍ په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې په دغو ټلیفوني خبرو کې، د افغانستان او استرالیا ترمنځ د دوه اړخیزه او دوامداره اړیکو او د سولې د روان بهیر په اړه بحث وشو او دواړو لوریو په افغانستان کې د طالبانو له لوري روان تاوتریخوالی په کلکه وغانده.

د خبرپاڼې له مخې، په دغو ټلیفوني خبرو کې د استرالیا لومړي وزیر وویل: طالبان باید اوربند چې د افغانستان د خلکو حقه غوښتنه ده ومني او دغه راز یې روانې هدفي وژنې په کلکه وغندلې. هغه زیاته کړه، هېواد یې د افغانانو په مالکیت او مشرۍ د سولې روان بهیر چې د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنې او ارزښتونه پکې نه یوازې وساتل شي، بلکې د پیاوړتیا ترڅنگ ورته دوام هم ورکړل شي، ملاتړ کوي.

ولسمشرۍ ماڼۍ وایي چې ولسمشرغني له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې د استرالیا د سخاوتمندانه مرستو او د سولې له بهیره د دغه هېواد د ملاتړ مننه وکړه او استرالیا یې د افغانستان ښه دوست او مهم نړیوال متحد وباله.

# د امریکایي ځواکونو د شمېر کمول



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظ. صمیم

له هغې وروسته چې د امریکا دفاع وزارت اعلان وکړ، په افغانستان کې د خپلو پوځیانو شمېر یې ۲۵۰۰ ته راکم کړی، د هېواد د ملي امنیت شورا وایي چې د امریکایي سرتېرو کمښت په افغانستان کې پر جنګي وضعیت منفي اغېز نه لري.

له دې سره په یو وخت، طالبانو ویلي چې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتل د دوحې د موافقې په برخه کې عملي ګام او هوکړې ته رسېدل دي.

د امریکا دفاع وزارت د مرغومي په ۲۶مه نېټه اعلان وکړ چې په افغانستان کې ددغه هېواد د سرتېرو شمېر له ۲۰۰۱ کال وروسته تر ټولو ټیټې کچې ته رسېدلی او اوس په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو شمېر ۲۵۰۰ تنه دی.

اخوا، د ملي امنیت شورا ویاند رحمت الله اندړ د امریکا د دفاع وزارت له اعلانه یوه ورځ وروسته وویل چې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو زیاتوالی او کمښت پر جنګي وضعیت اغېز نه لري؛ ځکه اوسمهال د جګړې ۹۶ سلنه مشري او مدیریت د افغان امنیتي ځواکونو له خوا کېږي.

له بلې خوا، په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي چې له افغانستانه د لازیاتو امریکایي پوځیانو وتل د دوحې موافقې د اجرا او هوکړې ته د رسېدو په لار کې عملي ګام دی.

د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند ددغې موافقې اجرا د امریکا او افغانستان په ګټه بولي. محمد نعیم د طالبانو له اړخه ډاډ ورکړی چې د دوحې هوکړې ته ژمن دي.

د امریکا دفاع وزارت د مرغومي په ۲۶مه اعلان وکړ چې په افغانستان کې ددغه هېواد د پوځیانو شمېر ۲۵۰۰ ته راکم شوی دی.

د امریکا د دفاع سرپرست وزیر کریستودفر میلر په یوه بیانیه کې وویل چې د دونالډټرمپ د حکم له مخې، د اعلان شوي پروګرام پر بنسټ په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو شمېر کم شوی دی.

د امریکا ددفاع سرپرست وزیر وایي چې د ۲۰۲۱ کال تر مې میاشتې پورې د امریکایي ځواکونو د بشپړ وتلو لپاره د پلانونو په لټه کې دی، خو د هغه په وینا د پوځیانو هر ډول وتل به شرایطو ته په پام سره عملي شي.

د امریکا او طالبانو د موافقې له مخې چې د تېر کال د کب په لسمه نېټه لاسلیک شوه، امریکایي ځواکونه به د روان زېږدیز کال تر مې میاشتې په بشپړه توګه له افغانستانه ووځي. د امریکایي پوځیانو د وتلو په بدل کې طالبانو ژمنه کړې چې له ترهګرو شبکو سره اړیکې پرې کوي او د افغانستان خاوره به د امریکا د ګټو پرخلاف نه کارول کېږي.

# افغانستان او د السوالوادور د سولې تړون درسونه



◆ لیکنه: آسیه حمزه اي
◆ ژباړه: محمد عزیز پردېس

جنرال کارلوس هومبرتو رومرو په ۱۹۷۷ زېږدیز کال کې په درغلۍ سره په ټاکنو کې د السوالوادور ولسمشر شو. هغه چې له کابو(۵۰) کلونو پوځي واکمنۍ وروسته واک ته ورسېد، د اقتصادي مخکښو ځېرو له ملاتړه برخمن شو. ددې هېواد په لس گونه زره اوسېدونکو په تاوتریخوالي سره ددغو ټاکنو پر وړاندې پاڅون وکړ. په ورته وخت کې امریکایي چارواکو له رومرو وغوښتل چې له خپلو سیاسي مخالفینو سره په سوله ییز ډول مخ ته لاړ شي او د ژر کېدونکو ټاکنو په ترسره کولو هوکړې ته ورسېږي؛ خو رومرو ونه منله. د ۱۹۷۹ د اکتوبر په ۱۵مه، د السوالوادور د پوځي افسرانو اصلاح غوښتونکې ډلې غیر وسله واله او نه بې وینې تویلو کودتا وکړه چې په پایله کې رومرو او د کابینې ډېری برخه یې له هېواده په تېښتې بریالي شول.

د السوالوادور ، د مسیحي او سوسیال ډیموکرات گوندونو مشران او همدارنگه د اقتصادي او سوداگریزو فعالینو یو استازی د یوې لنډې مودې لپاره ددې هېواد له پوځي حکومت سره د یوځای کېدو په موخه راوبلل. له یوې مودې وروسته د امریکا د سفیر، رابرټ وایټ په گډون د بېلابېلو څارونکو له لوري داسې وویل شول: «السوالوادور سوله ییز لوري ته برابر شوی دی»؛ خو نوي حکومت چې له یوه پلوه په پوځ او ټولنه کې د محدود ملاتړ لرونکی ؤ او له بلې خوا، د مدیریت وړتیا یې نه لرله، له بې ثباتۍ سره مخ شو. په همدې ترتیب بیاځلي پاڅونونو راپورته شول او پوځي حکومت هم د پاڅون کوونکو په ځپلو لاس پورې کړ.

داسې ښکاري چې په حقیقت کې د السوالوادور د کورنیو جگړو پیل ؤ. د السوالوادور مذهبي مشر مونسینور اسکار رومرو، د ۱۹۸۰ زېږدیز کال په مارچ کې ترور شو. دغه پېښه د خلکو او سیاسیونو په غالب گومان، د واکمنې ډلې د لوبغاړو لخوا شوې وه.

له دې پېښې وروسته د هغوی ځینې کسان زنداني شول. له یوې لنډې مودې وروسته په څو میاشتو کې د (اف. ام. ال. ان) د فاربوندو ماریتي، ازادي غوښتونکې جبهې په نوم، د کیڼپالو افراطي چریکي ډلو، یو ائتلاف د کیوبا او فیدل کاسترو په مستقیمې مداخلې سره جوړ شو. شوروي اتحاد چې له کیوبا سره یې همکاري لرله، د کیڼپالو افراطي چریکي ځوځښتونو څخه یې ملاتړ اعلان کړ. د کیڼپالو افراطي ائتلاف له کوم ځنډ پرته، د وسلو او اطلاعاتو په ترلاسه کولو سره، د السوالوادور دولت پروړاندې وسله وال برید وکړ. تاوتریخوالی ډېر شو او د جگړې اور بل شو. دغې جگړې شاوخوا ۱۳ کاله دوام وکړ، چې په پایله کې یې له ۷۵ زره ډېر وگړي ووژل شول. ډېری قربانیان، د کلیوالو سیمو مېشت ملکي وگړي ؤ.

د کورنۍ جگړې پرمهال، پوځ څو ځله د ملکي وگړو په عامه وژنه لاس پورې کړ. د بشري حقونو نړیوالو بنسټونو بېلابېلو څېړنو او د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ارزونو، د کلیوالو په عاموژنه کې یې د السلوادرو د پوځ د لوړ پوړو قوماندانانو لاس لرل تائید کړل. دواړو لوریو د ماشومانو او ځوانانو له منځه پوځیان جلبول او هغو وگړو به چې له غړیتوبه انکار کاوه، تر بریدونو لاندې به راتلل. له بل پلوه **د فاربوندو ماریتي آزادي غوښتونکې جبهې غړو په پراخ ډول د ملکي وگړو او مخالفینو ترور او تښتولو ته مخه کړه. همدارنگه دغې ډلې ددې هېواد د عامه ځایونو لکه؛ پلونو، برېښنا، کروندو او فابریکو په ویجاړولو سره د اقتصادي گوزار تگلاره عملي کړه. ددې ډلې غړو ددغه هېواد ۹۰ سلنه پلونه**

**د چاودېدونکو توکو په وسیله والوځول او له یو نیولې تر یو نیم میلیارده ډالره یې ددې هېواد اقتصاد ته زیانونه ورسول.**

په داسې حال کې چې امریکا د السوالوادور له دولت او پوځي ځواک څخه ملاتړ کاوه، نیکارګوا، کیوبا او شوروي د دولت مخالفو وسله والو یا همغه د فاربوندو مارټي ازادي غوښتونکې جبهې ته وسلې ورکولې. شخړې او جګړې د السوالوادور ټولنې د ویجاړۍ، د بشري حقونو سرغړونې، د خلکو د بېځایه کېدو، د ناقانونه اعدامونو، د شاوخوا اته زره وګړو د لادرکه کېدو او له ۷۵ زرو زیاتو وګړو د مړینې لامل شوې.

د ۱۹۸۰ لسیزې په کلونو کې د فاربوندو مارټي ازادي غوښتونکې جبهې ائتلافي ډلې او د السوالوادور دولت ترمنځ د سولې بهیر د رامنځته کېدو لپاره لومړنۍ هڅې وشوې، خو بریالۍ نه وې. په همغو ورځو کې پر یوې لویې غونډې برید د سولې مذاکرات په ټپه ودرول. دوه اونۍ وروسته د کیڼپاله افراطي ایتلاف ډلې ترټولو لوی برید ترسره کړ او په دې سره نارامیو بیا زور واخیست. دغې ډلې د سختو بریدونو په پایله کې یو شمېر لوی ښارونه لکه، سانسلوادور، سان میګوئل او سانتاانا ونیول.

د ۱۹۸۹ کال د نومبر په ۱۶مه د السوالوادور پوځي ځواکونو په سانسلوادور کې د مرکزي امریکا پر پوهنتون برید وکړ او شپږ عیسوي پادریان او دوه ګډونوال یې ووژل. د ۱۹۸۹ کال په وروستیو کې تاوتریخوالي وښوده چې د دواړو لوریو پوځي بریا ناشونې ده. پردې سربېره د شوروي اتحاد پرځېدل چې د فاربوندو مارټي ازادي غوښتونکې جبهې ائتلافي ډلې ته یې وسلې ورکولې، ددغې ډلې پر فعالیتونو منفي اغېز وکړ او د السوالوادور دولت د مخالفو وسله والو د کمزورۍ سبب شو. له بل پلوه د امریکا دولت چې په ۱۹۸۰ لسیزه کې د سولې مذاکراتو لپاره د سیمه ییزو هڅو مخالف ؤ، په جدي توګه د کانګرس له لوري د مرستو د پرې کېدو له خطر سره مخ شو. **د ۱۹۸۹ کال په دسمبر او د ۱۹۹۰ کال په لومړیو کې د السلوادرو دولت او مخالفو وسله والو له ملګروملتونو غوښتنه وکړه چې د سولې مذاکراتو مشري وکړي.**

**د سولې مذاکرات او اساسي چوکاټونه**

د ۱۹۹۰ کال په فبرورۍ او مارچ کې د ملګروملتونو استازي الوارو دوسوتو له دواړو لوریو سره همکاري وکړه، څو په پیل کې د مذاکراتو لپاره یوه کړنلاره ترتیب کړي. د همغه کال په اپرېل کې د سولې مذاکراتو لپاره د څلورو اصلي موخو په لرلو سره یوه طرحه اعلان شوه چې څلور برخې یې لرلې «د وسله والو بریدونو پای ته رسول»، «د السوالوادور د دموکراتیک جوړونې دودول»، «بشري حقونو ته د درناوي تضمین» او «د ټولنې بیا یووالی». له هغې وروسته د مذاکراتو لپاره د هوکړې دوه پړاوونه رامنځته شول. لومړی پړاو سیاسي هوکړه وه چې څو موضوعات پکې شامل ؤ لکه، وسله وال پوځ، بشري حقونه، د اساسي قانون اصلاحات، قضایي او ټاکنیز اصلاحات، اقتصادي اصلاحات او اوربند، چې ټول دغه موارد د ملګروملتونو له لوري ومنل شول. د مذاکراتو په دویم پړاو کې د تړونلیک بندونه عملي شول او د السوالوادور په سیاسي، ټولنیز او فرهنګي ژوند کې د مخالفو جګړه مارو د بیا یو ځای کولو طرحه عملي شوه.

څو میاشتې وروسته دواړه لوري د «مکسیکو تړونلیک» تر عنوان لاندې د اصلاحاتو پر یوې کڅوړې سره سلا شول چې «د وسله والو ځواکونو اصلاح»، «له وسله وال پوځه جلا، د ملي مدني خپلواکو پولیسو رامنځته کول»، «د سترې محکمې د قاضیانو د ټاکلو لپاره نوی میکانیزم» او همدارنګه «د کورنۍ جګړې په اوږدو کې د ترټولو تازه تاوتریخوالي ګامونو په اړه د حقیقت موندونکي کمېسیون جوړول» یې ترټولو مهم بندونه ؤ.

سره له دې چې له هوکړې څو میاشتې تېرې شوې وې، خو بیا هم د دواړو لوریو لخوا تاوتریخوالي دوام درلود. د تاوتریخوالي دغه دوام ددې سبب شو چې د منځګړي په توګه د ملګروملتونو رول نور هم ډېر شي. خبرواترو دوام درلود، خو د پرمختګ څه پکې



نه ترسترگو کېدل.

د مکسیکو تړون له لاسلیکولو وروسته د تلپاتې سولې د ټیکاو او په السوالوادور کې د تاوتریخوالي د پای ته رسېدو لپاره یوه بل ترونلیک تنظیم شو. د ۱۹۹۱ کال په سپټمبر کې د کیڼپاله افراطي چریکي ډلو ائتلاف او د السوالوادور دولت په نیویارک کې د ملگروملتونو په مرکز کې سره ولیدل او هلته یې د «نیویارک تړون» لاسلیک کړ. په دغه تړون کې لاندې برخې شاملې وې: «د السوالوادور د واکمنۍ د دفاع په اړه د وسله والو ځواکونو د ماموریت لپاره نوی تعریف»، « د نوي ملي پولیسو رامنځته کول»، «د هغو کوچنیو کروندگرو لپاره چې زمکې نلري، له ۲۴۵ هکتاره لویو زمکو څخه گټه اخیستل» او «له سیاسي تړونلیکونو څارنه او د سولې د ټیکاو لپاره د ملي کمېسیون رامنځته کول.»

د ۱۹۹۱ کال د نومبر په ۱٦مه، د کیڼپاله افراطي چریکي ډلو ائتلاف په رسمي توگه د خپلو فعالیتونو د درېدو خبر ورکړ او **د ۱۹۹۲ کال د جنورۍ په ۱٦مه د السلوادرو دولت او د دولت مخالفو وسله والو د «د چاپولتپک ترونلیک» تر عنوان لاندې د سولې بل تړون لاسلیک کړ او اوربند په رسمي توگه عملي بڼه غوره کړه.**

**د نړیوالو لوبغاړو رول**

نړیوالو لوبغاړو د السوالوادور د سولې په مذاکراتو او هم د هغه د اصلاحاتو په پلي کېدو کې اساسي رول درلود. د السوالوادور لپاره د خبرواترو د آسانتیاو د برابرولو او د سولې د ټیکاو لپاره د سولې د څارونکي په توگه د ملگروملتونو رول د اهمیت وړ ؤ.

له بل پلوه کاتولیک کلیسا هم د السوالوادور د سولې په بهیر کې د پام وړ رول درلود. د څو کلونو جگړو په ترڅ کې، کلیسا د څو ناستو کوربه توب وکړ او په ناستو کې یې گډون وکړ. په داسې حال کې چې کاتولیک کلیسا رسمي منځگړې نه وه؛ خو اخلاقي واک یې د اړخونو ترمنځ د سولې خبرواترو په بریالي کېدو کې مهم رول درلود.

**پایله**

د سولې مذاکراتو اصلي موخه هغې جگړې ته د پای ټکی ایښودل ؤ چې پکې له ۷۵ زرو زیات وگړي چې ډېری یې ملکي وگړي ؤ، ووژل شول. په دغو وختونو کې په سلهاوو زره وگړي بېځایه او له خپلو اصلي سیمو کډوال شول او ملي اقتصادي بنسټونو ته سخت زیان ورسېده. په همدې اساس مذاکرات بریالي ؤ.

**په السوالوادور کې سیاست غیر پوځي شو او تر ډېره دغه بهیر اوس هم روان دی. امنیتي ځواکونه اصلاح او د بشري حقونو سرغړونکو ته سزا ورکړل شوه او د ښاروالۍ، قانون جوړونې او ولسمشریزې ټاکنې په وخت او پوره روڼتیا ترسره شوې. همدارنگه په السوالوادور کې د سولې له ټینگښت وروسته بشري حقونه او نور حقونه جدي ونیول شول.**

د سولې تړون دواړو لوریو ته یوه بشپړه سیاسي لاره پرانیسته څو د هغه په اساس گډې گټې د ایډیولوژیک جوړجاړي له لارې وپېژني. البته باید وویل شي چې سیاسي حل لارو دواړه لوري دې ته نه مجبورول چې اساسي اقتصادي اختلافات حل کړي، په همدې اساس یو سیاسي خنډ په السوالوادور کې د اقتصادي ودې د څوړتیا لامل شوی.

**د السوالوادور د سولې په بهیر کې مهم گامونه**

**د ملگروملتونو منځگړیتوب د مذاکراتو د بریالیتوب اصلي لامل ؤ. بې له شکه چې منځگړي (درېیمگړی او بېپړي)، دواړه مذاکره کوونکي پلاوي دې ته اړ کړل چې د وسلې ایښودلو لپاره معتبرې ژمنې وکړي یا د کیڼپالو مخالفینو او د دولت مشرانو ترمنځ د باور فضا رامنځته کړي.** ځواک لرونکو مشرانو او منځگړو د سولې مذاکراتو د پیلولو او پایلې ته د رسېدو لپاره د دواړو لوریو په هڅولو کې رغنده رول او اغېز لرله.

د ملگروملتونو له رسمي منځگړیتوبه ورهاخوا، کاتولیک کلیسا د غیر رسمي آسان چاري په توگه د کیڼپالو افراطي مخالفینو او د السلوادرو دولت ترمنځ په مذاکراتو کې مهم رول ولوباوه. د مکسیکو او وینزویلا په څېر نورو هېوادونو د مذاکراتو په اوږدو کې د ناستو په کوربه توب سره له دې بهیره ملاتړ کړی دی.

د سولې په بهیر کې حل لارو د السوالوادور دولت او د کیڼپالو مخالفینو غوښتنو پورې تړاو درلود؛ خو په دغه بهیر کې د نورو نادولتي، کرنیزو، کارگري او مذهبي بنسټونو ونډه چې په مستقیمه توگه د جگړې تر اغېز لاندې ؤ هم د پام وړ ؤ. په پایله کې د سولې د تړون په کېدو سره د ډېر شمېر ملکي وگړو غوښتنې چې د شخړو پرمهال زیانمن شوي ؤ، تر یوه بریده لیرې شوې.

د سولې په تړون کې ځینې اصلاحات او موارد له تمې مخکې پلي شول او ځینې نورو یې په بشپړ ډول عملي بڼه خپله نه کړه.

**د افغانستان لپاره د السوالوادور د سولې لاربښوونې**

د سولې تړون د عملي کېدو لپاره د درېیمگړي یا ثالث شخص شتون اړین دی، لکه د السلوادو لپاره د ملگروملتونو منځگړیتوب.

**د طالبانو د سیاسي یو ځای کېدو میکانیزم، په ځانگړې ډول د ټولنې په کچه، باید په دې شرط مطرح شي چې د قربانیانو لپاره عدالت پلی شي. همدارنگه د ښځو او قومي لږکیو اساسي حقونه باید له پامه ونه غورځول شي. د سولې په بهیر کې د افغانستان د ټولو مذهبونو او قومونو ونډه او گډون د اهمیت وړ دی.**

مهم ټکی دادی چې په السوالوادور کې تقلبي ټاکنې او د حکومت نه مشروعیت، ددې هېواد د کورنیو جگړو د پیلېدو اغېزلرونکی لامل ؤ. په همدې اساس ویلی شو چې په افغانستان کې د دولت د مشروعیت کچه د سولې د عمر پر اوږدوالي اغېز لري.

د سولې په بهیر کې د دین «جوړوونکی» رول د اهمیت وړ دی. لکه څرنگه چې د السوالوادور د سولې په بهیر کې کلیسا مهم رول ولوباوه. ترټولو مهمه موضوع خلکو ته د خدمتونو په وړاندې کولو کې انډول په پام کې نیول او د هغوی د رضایت ترلاسه کول دي.

**سوله هغه وخت شوني ده چې تبعیض له منځه ولاړ شي. همدارنگه په جگړه ځپلو سیمو کې روغتیايي خدمتونه، اقتصادي فرصتونه او د امنیت ټینگښت، په مساوي توگه ماشومانو، ځوانانو، ښځو او نارینه وو ته د زده کړې د لاسرسي فرصت برابرول هغه اساسي خدمتونه دي چې باید برابر شي.**

سرچینه: د نړیوالو او ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز

# د افغانستان زعفرانو لومړی ځای خپل کړ

◆ م. ظریف صمیم

د صنعت او سوداگرۍ وزارت اعلان کړی چې د افغانستان زعفران د نړۍ په کچه تر ټولو ښه کیفیت لرونکي وبلل شول.
ددغه وزارت په وینا، د افغانستان زعفران په ۲۰۲۱ میلادي کال کې د اروپايي ټولنې د ذايقې انستيتوت د درېیو طلايي ستورو لومړی جایزه ترلاسه کړې ده.
د صنعت او سوداگرۍ وزارت ویاند فواد احمدي ۸صبح ته وویل چې دا جایزه د افغانستان په استازیتوب کیهان زعفران کرنیز شرکت ته ورکړل شوه.
د هغه په وینا، د اروپايي ټولنې د ذايقې نړیوال انستيتوت په بروکسل ښار کې دی او په نړیواله کچه د خوراکي محصولاتو د خوند او کیفیت په برخه کې یو معتبر نړیوال بنسټ گڼل کېږي. د هغه په وینا، د نوموړي بنسټ د درېیو طلايي ستورو جایزه له نړیوال اعتباره برخمنه ده.
احمدي وايي چې په ۲۰۲۱ زېږدیز کال کې د افغانستان زعفرانو ته د عالي طبیعي کیفیت له امله ددغه بنسټ جایزه کیهان کرنیز شرکت ته ورکړل شوه.
د صنعت او سوداگرۍ وزارت ویاند زیاته کړه چې کیهان کرنیز شرکت د ذايقې د نړیوال انستيتوت د طلايي ستورو جایزې په اخیستو سره له دې وروسته کولی شي پر خپلو محصولاتو ددغه بنسټ نښان ولگوي او په نړیواله کچه یې وکاروي.
د ذايقې یا خوند د آزموینې نړیوال انستيتوت په ۲۰۰۳ کال کې په بروکسل ښار کې جوړ شوی او له هغه وخت راهیسې هر کال د سلگونه ډوله خوراکي توکو خوند آزمويي.





# په کابل کې دوه ښځینه قاضیانې ترور شوې

◆ د ۸صبح پښتو مجله

ستره محکمه تاییدوي چې دوې ښځینه قاضیانو د مرغومي په ۲۸مه نېټه په کابل کې د ناپېژاندو وسله والو په برید کې ووژل شوې.
د سترې محکمې ویاند احمد فهیم قویم، ۸صبح ته وویل چې په دغه برید کې دوې ښځینه قاضیانې ووژل شوې او موټر چلوونکی یې ټپي شوی دی.
د کابل د امنیه قوماندانۍ ویاند فردوس فرامرز هم وايي چې دا پېښه د یکشنبې ورځې سهار مهال د کابل په قلعه فتح الله سیمه کې وشوه.
هغه زیاته کړه چې ناپېژانده وسله والو د دغو قاضیانو پر موټر برید وکړ.
تراوسه کوم کس یا ډلې ددې برید مسوولیت نه دی منلی.
د کابل پولیس وايي تراوسه د برید عاملین نه دي نیول شوي او په دې اړه د دوی څېړنې روانې دي.
په وروستیو ورځو کې په کابل کې هدفي وژنې زیاتې شوې دي.
که څه هم د ډېری دغو بریدونو مسوولیت څوک پر غاړه نه اخلي، خو افغان امنیتي چارواکي طالبان ددغو پېښو مسوول بولي.

# ادبي ورشو

نه مې ستا دا نرۍ شونډې دي پکار
نه دا زلفې دي ول ول لکه ښامار

نه د بتې په شان دنگه غرۍ غواړم
نرگسې سترگې نه ډکې د خمار


نه غاښونه دي لعلونه د عدن
نه اننگي غټ سره سره لکه انار

نه پستې د سرینډې په شان خبرې
نه وجود لکه د سر وي وضعدار

خو یو شی راته راوښیه دلبره
د لاله په شانز ړگی غواړم داغدار

یو دوه اوښکې چې د غم او محبت وي
په لکونو په لعلونه ترې کړمز ار

غني خان:
داز ما اولنی شعر دی چې د ۱۴ کلنی په عمر کې لیکل شوی دی
جولایي ۱۹۲۹ / کتاب: پلوشې



## لنډۍ

په صورت روغ درته ښکارېږم
لکه غنم د زړه په سر چاودلی یمه

په غټو سترگو دې مین شوم
ځکه مې غټې غټې اوښکې په مخ ځینه

په غم کې ستا نه کمه نه یم
لېونی نه یم چې به کلي خبرومه

په کشمالو کې مې حلال کړئ
چې جنازه مې ښاپېرۍ اوچتوینه

په کوځه تېر شوم گناهگار شوم
شړنگار یې خېږي زولنې راته راوړینه

په کوژدن شوې مئین مه شې
ته به ولاړ یې دا به بل ته ودوینه

په مرگ به مرم پاتې به نشم
گور ته به یوسم ستا رټلې ځوابونه

په لاره تلې مخ دې راستون کړ
د ظالم لورې په گولۍ دې وویشتمه

په لښتې ټوپ کړه بیا راټوپ کړه
چې د اوربل روپۍ دې گډې وډې کړمه

په ما دې ځوانه ځوانې اور کړه
په تا دې اور شي د همزولو مجلسونه

په ما دې کړې څه بلا ده
چې دې د در خاورې په جېب کې گرځومه

په مخ دې شرک د زلفو راکړ
ځکه مې اوښکې له ملالو سترگو ځینه

# مریدنامه ۷

◆ **لیکوال څېړنوال عبدالغفور لیوال**

خلکو ورغبر کړل : خپل بوتان ساتو، دین مو په خطر کې دی!
ببرسري وخندل : ایا ستاسو خدای خپل دین نه شي ساتلای؟ که دین د خدای گڼئ نو تاسو څوک یاست چې هغه به وساتئ؟ ریښتیا خو دا ده چې ستاسو د نفسونو بوتانو ته خطرپېښ دی !
اې خلکو ! تاسو پرخپل دین ځان نه دی پوهولای، بلکې تاسو پردین غیرت کوئ !
دین باور دی او باور له پوهې څخه پیدا کیږي ! دین ستاسو تر غیرت ډېر، ستاسو د زړه او ذهن روښانېدو ته اړ دی. پر دین د خپلو خلکو وینې مه بهوئ، پر دین خپل تیاره زړونه روښانه کړئ !
تر دې وروسته ببرسری او مرید دواړه له معبد څخه ووتل.
د راهب له سترگو څخه یوه رڼه اوښکه را ورغړېده او خلکو ته یې وویل :
د نن ورځې موعظه همدا وه !
پر کلي ورننوتل، وبا گډه وه، د ماشومانو لویه هدیره جوړه وه، مشران ولړې او تندې پسې اخیستي وو، ویالې وچې وې، کلیوالو یو د بل غوښې خوړلې او زورورو د کمزوریو پر وینو خپله تنده ماتوله.
چې اذان به وشو، کلیوال به ډلې ډلې رنگ جومات ته ننوتل، اوږده اوږده لمونځونه به یې وکړل، ډېره شیبه به یې لاسونه لپه نیولي وو: له خدای (ج) څخه یې په ویالو او چینو کې اوبه، ښېرازي، سوله او یووالی غوښته، د وبا له شره یې د خلاصون دعا گانې کولې .
مرید ببرسری وپوښت: ولې د دوی دوعا گانې نه قبلیږي ؟
ببر سري د وچې ویالې بهیر وڅاره، تر غره پورې یې نظر وگانډه او ځواب یې ورکړ.
دا ویاله تر دې غره هاخوا له یوه بند څخه را بېله شوې ده، اوس بند نړېدلی دی او سربند خټو بند کړی دی، لوی خدای (ج ) دې خلکو ته لاس او پښې بښلې، چې ولاړ شي سربند پاک کړي او بند ورغوي، په وچو ویالو کې به اوبه راشي، غنم به شنه او وبا به ورکه شي.
خو مرید قانع نه شو : ما د دعا د اجابت پوښتنه وکړه.
پیر وویل: همدا ( هغه ) د دوی د دعا اجابت دی !
پر یوه کلي ورپېښ شول، چې خلک یې د گاونډیوکلیو له بدماشانو څخه په تنگ ول، گاونډیو کلیو د دوی اوبه ورڅخه گرځولې وې، په چینو کې یې ورته ډبرې اچولې وې، د دوی د کلي غواگانې او پیسورې وزې یې ورڅخه په زوره وړلې، پادوانان او شپانه یې وروژل او ژوندی رمې یې ورڅخه وړلې، د دې کلي کښتونه یې تر پښو لاندې کول او درمندونو ته یې اور اچاوه، کلیوال د گاونډیو کلیو له بدماشانو خوراپازاب وو. مرید له پیر څخه وپوښتل :
ولې کلیوال د گاونډیو بدماشانو څه چاره نه کوي ؟
ببرسري وخندل :
د دې بدمرغه کلي ملکانو او اخوندانو د گاونډیو کلیو بدماشانو ته خپلې لونې ور واده کړي دي، دوی په گاونډیو کلیو کې کورونه او خېلخانې لري، ملکان وایي د گاونډیو پیران او زیارتونه زورور دي. نو ځکه یې دهغوی بدماشانو ته لورگانې ورکړې دي. د بدماشانو ناروا ته غریب شپانه او خوار کلیوال یوازې پاتې دي.

# نېکتايي = ډیموکراسي!!!

◆ **طنز: م. ظریف صمیم**

هر اولس د هغه په کلتور او دودونو پېژندل کیږي. زموږ گران هېواد افغانستان لرغونی تاریخ، بډایه کلتور او ځانگړې هویت لري چې تل په نړۍ کې د افغانانو د برم اوعزمت بېلگه و، خو له بده مرغه د تاریخ په اوږدو کې پردیو زموږ پر گران هېواد د پوځي یرغل ترڅنگ کلتوري یرغل هم کړی چې د دا ډول یرغل پایلو بیا تر لس گونو کلونو دوام کړی او په خواشینۍ سره باید ووایو له دې امله چې په افغانستان کې د پوهې او زده کړې کچه ډېره ټیټه ده نو د پردیو دغو کلتوري یرغلونو د هغوی په خوښه پایلې لرلې دي.
په څو تېرو کلونو کې په افغانستان کې د طالبانو د حکومت له ړنگېدو او د بهرنیو ځواکونو په ملگرتیا د نوي نظام د رامنځته کېدو له هماغه لومړیو ورځو څخه کلتوري یرغل هم په پراخه توگه پیل او د هېواد تر گوټ گوټ یې په چټکۍ سره جرړې وغځولې اکثرو خلکو په تېره بیا د کابل او نورو لویو ښارونو اوسېدونکو ځوانانو او آن سپین ږیرو د ډیموکراسۍ د نغارې په اورېدو سره په یو هېر ږیرې وخرېلې چا به چې په تول ژوند کې سر نه و سرتور کړی لونگۍ او خولۍ یې ایسته وغورځولې دریشۍ یې وکړې او تر ټولو مهمه دا چې نېکتايي گانې یې هم تر ستوني تاو کړې چا به چې د یوه وخت ډوډۍ هم په سختۍ پیدا کوله خو تلویزیون، ویډیو او آن سپوږمکۍ نیونکې دستگاه (ډېش آنتن) یې واخیستل او په دې لاره کې اوس هم په خورا درز سره سیالۍ رواني دي او په اصطلاح ډیموکراسي امتحانوي او هغه څوک چې د ډیموکراسۍ له دې کاروانه شاته پاتې وي هغه نو بیا وروسته پاتې او ځانونه روڼ اندي بولي.
دې همدې خو ورځو مخکې خبره ده زه چې له نږدې یو نیم کال وروسته له بهره د خپلو خپلوانو لیدو ته افغانستان ته تللی وم او هلته مې د پاتې کېدو په موده کې خپلې ملي جامې آغوستې څو ځله به چې کوم حکومتي دفتر ته ولاړم کله به چې په دروازه ورننوتم چا به چې دریشۍ آغوستې او نېکتايي تړلې وه هېچا به ترې پوښتنه هم نه کوله او نیغ به د ننوتلو اجازه ورکول کېده، خو زه به د دروازې ساتونکي لومړی ودرولم او له ډېرو پوښتنو گروېږنو وروسته به یې زما نوم د پلار نوم او لنډه دا چې نور اړوند مالومات چې زړه به یې غوښتل په یوه کتاب کې ولیکل او وروسته به چې ودانۍ ته ننوتم هر چا به برگ برگ راته کتل زه به په ځان کې ولگېدم چې ولې ټولو په ما کې سترگې ښخې کړې خو په لومړي سر کې به زما ډېر دې ټکي ته پام نه و، خو وروسته بیا پوه شوم چې ما ته د هر چا په ځیره کتو علت زما ملي جامې دي. آن په یوه دفتر کې د هغه کارکوونکو زما د قانوني کار له کولو ډډه وکړه، سبا مې چې یو بل ملگری چې دریشي یې آغوستې او ښه کش نېکتايي یې تړلې وه هلته راسره بوته سمدستي هماغه پرونی مامور په پارسي ورته وویل (امر کو بیادر) زما ملگري زما پانه ورکړه بې له دې چې کومه خبره پکې وکړي لاسلیک یې کړه او په ډېر درناوي یې بېرته زما ملگري ته ورکړه له نوموړي دفتره په راوتو سره زما ملگري مخ راواړاوه او ویې ویل: زووره ډیموکراسي ده نن سبا دریشي او نېکتايي هر کار کوي.

# د رسنيو، مدني او بشري حقونو د فعالينو ترور د افغانستان د حال او راتلونکي لپاره خطر دی

◆ **د ډيالوگ او پرمختگ ملي مرکز ليدلوری**

په تېرو دوو لسيزو کې په افغانستان کې د بيان آزادي او مدني ټولنې له ودې څخه تر ټولو ملموس بل څه نه ؤ. هغه دوه لاسته راوړنې چې فعالين او کارکوونکي يې په دې ورځو کې د هدفي وژنو او تاوتريخوالي له څپې سره مخ دي. په افغانستان کې د خبريالانو او مدني ټولنو غړو او همدارار د بشري حقونو فعالينو ترور څه نوې خبره نه ده، خو په تېر يوه کال کې په پرلپسې توگه د دې خلکو هدفي او عمدي وژنې بې مخينې دي.

د بې پولې خبريالانو بنسټ د وروستيو شمېرو له مخې په تېر ۲۰۲۰ زېږديز کال کې په ټوله نړۍ کې ۵۰ خبريالان وژل شوي دي. په افغانستان کې د خبريالانو ملاتړو بنسټونو راپور ورکړی دی چې په روان کال کې ۲۰ خبريالان ترور شوي دي؛ يعنې په ۲۰۲۰ کال کې د نړۍ ۴۰ سلنه وژل شوي خبريالان په افغانستان کې جگړې قرباني او ترور شوي دي.

په وروستيو کلونو کې، د داسې پېښو له ترسره کېدو وروسته د مختلفو ترورونو مسووليت د يوې ترهگرې ډلې لخوا منل کېده، خو اوس دغه هدفي وژنې په چوپتيا او مرموز ډول ترسره کېږي.

د افغانستان حکومت او ناټو دواړه د دغو پېښو لاملين طالبان گڼي خو طالبان دغه ادعا ردوي. د داسې وضعيت په اړه، په وروستيو ورځو کې په افغانستان کې ترټولو اساسي پوښتنه دا ده چې کوم کسان او د څه موخې په درلودو سره د خبريالانو، د بشري حقونو فعالينو او د مدني ټولنې غړو له وژنو گټه پورته کوي.

داسې انگېرل کېږي چې وسله والې ډلې د خبريالانو، مدني ټولنې غړو، بشري حقونو او د ښځو فعالينو په هدفي وژنو سره مختلفې موخې تعقيبوي.

په داسې مهمو شرايطو کې د دې هدفي وژنو دوام د دې

لامل شوی چې د افغانستان ډېرى چارواکي دې پايلې ته ورسېږي چې طالبان د دې تروروڼه لاملين دي او له دغو تروروڼه يې موخه دا ده چې وکولی شي  د سولې په مذاکراتو کې د خپلو امتيازاتو اخيستلو دريځ غښتلی کړي، البته په تېرو وختونو کې طالبانو پر رسنيو او خبرىالانو بريدونه کول او د هغوی د وژنو مسووليت به يې هم په غاړه اخيسته.

د تاوتريخوالي او بيان ازادۍ، فکر او نظريې پلويانو په نښه کولو سره هڅه کېږي چې ډار او وېره ډېره شي او په اوسنۍ واکمنې ټولنه او د حکومت پروړاندې د عامه افکارو د بې باورۍ د فضا سيوری لا هم پسې وغوړېږي.

د رسنيو او بشري حقونو فعالين ډېرى يې لوستي او په ملي او سيمه ييزه کچه پېژندل شوي دي، په همدې اساس د هغوی وژل د افغانستان ټولنه په اونيو اونيو اغېزمنوي او د دې سبب کېږي چې عامه فکرونه او د افغانستان حکومت تر فشار لاندې راولي او په دولتي بنسټونو باور له ننګونو سره مخ او کمزوری يې کړي.

طبيعي ده چې په داسې شرايطو کې پر حکومت باندې د عمومي افکارو فشار، د افغانستان دولت د مخالفينو په ګټه دی. دغه ستراتېژي په حقيقت کې کله ناکله د ښارونو پر مرکزونو له لويو چاودنو او ځان وژونکو بريدونو څخه هم د حکومت مخالفينو ته ګټوره تمامېږي. د جګړو تاريخ ښيي چې رسنيو د بېلابېلو بهيرونو په ګټه د عامه افکارو په بدلولو کې پراخ رول لرلی دی. په حقيقت کې بنسټيزې ډلې له رسنيو او مدني ټولنې پرته په اسانۍ سره کولی شي چې خپلو غوښتنو ته ورسېږي. ټولنه له رسنيو پرته له موجوده واقعيتونو څخه واټن اخلي. له دغو پېښو وروسته ځينو خبرىالانو او مدني فعالينو افغانستان پرېښود. ځينو رسنيو د طالبانو او نورو ډلو پر کړنو نقد د حد اقل کچې ته رسولی دی. ځينو رسنيو په خپلو نشراتو کې کموالی راوستی دی. حتی د ټولنيزو رسنيو يو شمېر فعالينو خپل فعاليتونه درولي او يا يې کم کړي دي او ځينې بيا د ترهګرۍ لپاره په اګاهانه او غير اګاهانه توګه تبليغاتي دستګاوې ګرځېدلې دي. دغه ټول موارد د هغو ډلو په ګټه دي چې د روښنايۍ او د عامه اذهانو له ودې وېره لري. وېره دا ده چې له دغو وژنو څخه زېږېدونکې وحشت رسنۍ دې ته اړ کړي چې خودسانسوري وکړي او دا هغه څه دي چې ترهګر يې خپلو موخو ته د رسېدو پروړاندې وروستی خنډ ګڼي.

داسې ښکاري چې طالبان عامه ذهنونه په افغانستان کې د دوحې له مذاکراتو وروسته د خپل سياسي حضور پروړاندې يوازينی خنډ ګڼي. د دغه غبرګ غلې کېدل د دې سبب ګرځي چې ترهګر د هغو څېرو په وژلو کې لا هم مخکې لاړ شي چې پر عامه ذهونو اغېزمنې دي.

په افغانستان کې د بشري حقونو فعاليت د بنسټپاله بهيرونو د مخالفت له امله ستونزمن کار دی. د ترهګريزو، فاسدو او زورواکو ډلو پروړاندې رسنيز فعاليت پرته له شکه يو ترټولو خطرناکه کسب دی. طالبان د خپل سياسي مشروعيت او تفکر پروړاندې مدني او رسنيز فعاليتونه ترټولو لويه ننګونه ګڼي. د دې ډلې تاريخ ښيي چې هغوی له خپل غبرګ پرته د هر غږ د غلي کولو په لټه کې ؤ. دوی په دغو وژنو سره غواړي چې افغانستان بيا ځلې بې غږه کړي څو بېرته راتګ ته يې زمينه برابره شي او د افغانستان له ټولنې، کلتور، دين او سياست څخه د طالبانو روايت، يوازينی روايت واوسي.

**په داسې وضعيت کې له هر وخت څخه ډېر:**

لومړی، د افغانستان حکومت د دې برخې د فعالينو د امنيت د ټينګښت لپاره لوی مکلفيت لري. په تېرو دوو لسيزو کې د حکومت او د افغانستان د خلکو ترټولو لويو لاسته راوړنو څخه ساتنه کولی شي چې د افغانانو په منځ کې په راتلونکې کې ولسواکۍ او ازادۍ ته هيله، ژوندۍ وساتي. مدني او د خپلواکو رسنيو فعاليتونه د خلکو د عامه پوهاوي او د ټولنې د پرمختګ ترټولو مهم وسايل دي.

دويم، رسنيز او مدني بنسټونه په يووالي، همغږۍ، همکارۍ او لازمو امکاناتو باندې کولی شي چې په احتياط سره له دغه ستونزمن او تاريخي پړاوه نه يوازې دا چې په سلامت ډول تېر شي، بلکې په پوره غښتلتيا سره نوي پړاو ته دننه شي او لوی مسووليتونه په غاړه واخلي. دغه چاره کولی شي چې د دغو بنسټونو له وېشلو، خودسانسورۍ او کمزورۍ مخنيوی وکړي.

دريیم، د نړيوالو بشردوستانه قوانينو پر بنسټ د مذاکره کوونکي د يو اړخ په توګه طالبان مستقيم او غير مستقيم مسووليتونه لري چې بايد ورته ځواب ويوونکي واوسي. هرکله که دغه ډله د تروروڼو د څېړې ترشا لاس ونلري، نو له کلياتو او فرصت طلبۍ څخه دې تېره شي او د افغانستان خلکو ته دې وضاحت ورکړي.

او بالاخره نړيواله ټولنه او د بشري حقونو مدافع بنسټونه او خبريالان بايد دغه موضوع د خپلو نړيوالو هڅو سرټکي وګرځوي او په تمامه معنی د دغو بريدونو د پای ته رسېدو لپاره لاس پکار شي. همدارنګه د نړيوالو محکمو له لوري په دغو پېښو کې د ښکېلو کسانو د دوسيو تعقيبول کولی شي چې د عدالت په پلې کولو کې اغېزمن ثابت شي.

د بيان ازادۍ ساتنه، بشري حقونو او ولسواکۍ ته درناوی له خپلواکو رسنيو او خبريالانو پرته ناشوني دی. په همدې ترتيب د مدني فعالينو په نشتون کې نشو کولی چې د مدني فعاليتونو تمه ولرو. د بشري حقونو د فعالينو په نشتون کې له بشري حقونو ساتنه له خطر سره مخ کېږي. له دې پړاو څخه په سالمه توګه د تېرېدو لپاره همکاري او همغږي زموږ د هر يوه ملي او ايماني دنده ده.

# ماتېدونکی جبر

## (لومړۍ برخه)



**پنځوس، شپېته کاله مخکې افغانستان هره شپه دوه نیم لکه بهرني سیلانیان لرل چې پرته له ډاره به یې د افغانستان له ښایسته طبعیته خوند اخیست، د هند هنرمندانو به په کلاسیکه موسیقۍ کې د خپلې بریا سند له کابله تائیداوه، د اسیا په کچه له عصري لیبونو څخه یو د کمپیوټر لیب په کابل کې رامنځته شو، کابل پوهنتون له څلوېښتو زیاتو هېوادونو محصیلونو ته د درس زمینه مساعده کړې وه ، د کابل پولیتخنیک پوهنتون د معنوي تغذیې ترڅنگ، د ظرفیتونو جوړولو په برخه کې اړین رول لوباوه او هغه مهال افغانستان له نړۍ سره تر ټولو ښه روابط لرل.**

### ◆ لیکوال: په ترکمنستان کې د افغانستان سفیر، خان ولي بشرمل

یو وطني متل دی؛ که میړونه غرونه دي ښځې اړمونه دي، یعنې د نارینه او ښځینه بشري ځواک که له یوې خوا له یو بل سره تړلی دی له بله پلوه له یو بل نه علاوه نیمگړی هم دی.

په یوه بشري ټولنه کې د دوی گډ کار د یو ستر بدلون لامل کیدای شي، خو له بده مرغه **تېرو تېل شویو پردیو جگړو زموږ عامه بشري ځواک وځاپه، زموږ اداري ظرفیتونه یې په بېرحمانه ډول له منځه یوړل، افراطیت او تاوتریخوالی تر آسمانه ورسېدل، عامه ذهنیت د کنگلتیا ښکار شو، له دیني او مذهبي افکارو روحانیت او انسانیت کډه وکړه،** ناوړه افکارو لکه (ښځه یا د کور او یا د گور) یا دا چې (لور د پردي دیوال څپیاکه) او داسې نورو غیر انساني  ویناوو نه یوازې زموږ د ړنو او سولیزو افکارو ځای ونیوه] بلکې د مېرمنو پر وړاندې یې تاوتریخوالي ته هم لاره هواره کړه.

دغه ناوړه روش د ټولنې کابو نیمایي وگړي وزگار کړل. د مېرمنو پر وړاندې له حقارته ډک فرهنگ زموږ دوه نسلونه له یوه سالم او بافرهنگه تربیته بې برخې کړل. بې منطقه نارینه محوره غیرت زموږ ولس له یو نه ختمیدونکي ټولنیز کړکیچ سره مخ کړ او زموږ دایمي، خو نه تجدید کیدونکي قبایلي او دودیز فکر، زموږ ټولنه له هر اړخیز کړکېچ سره لاس او گریوان کړه، زموږ روڼ اندي خو ډارن شعور ټولنه لا زیات ترینگلي لوري ته روانه کړه. موږ له یوه پلوه هره ورځ په فردي ډول وژل کېږو او له بله پلوه په ټولیز ډول د خپلو نیمگړتیاوو له امله لا پسې له یوې دایمي بې غورۍ سره مخ کېږو.

موږ خپلو انفرادي تیروتنو له دوامداره ټولیزو تیروتنو سره مخ کړي یوو چې له امله یې موږ په اقتصادي، امنیتي او ټولنیز ډگر کې له کنگلتیا سره لاس تر گریوان یو. موږ د خپلو پرلپسې تېروتنو له امله، لا زیات پسې غافل کېږو او د نهیلۍ خوا ته روان یو! دا مایوسي مو له یو داسې ډار سره مخامخ کوي چې له انفرادیت څخه پیل او وروسته په یو عمومي ډار پای ته رسېږي. دا ډار موږ وحشت، تشدد او انتحار ته هڅوي.

همدا علت دی چې موږ له یوه داسې وضعیت سره مخ  کېږو چې د جبر هر ډول ظلم او ناخوالې  پر موږ په اجباري توگه مني، موږ گام پر گام د مسایلو د حل په موخه له ورخطایۍ سره مخ کېږو او د حالاتو د درک لپاره له یو غلط سنجش څخه کار اخلو. د رهبرۍ پیژندنې، ټاکلې او عمومي ولسي انسجام په برخه کې له بېلابېلو ستونزو سره مخ یو، د وضعیت ناسم  درک مو لا زیات پېچلي وضعیت ته ټېل وهي.

د هرې ورځې په تېریدو زموږ ملي او نړیوال ارزښتونه تر پښو لاندې کېږي، د خپلو وگړو ترمنځ د نه انسجام له امله پردیو ته هم بې ارزښته کېږو، موږ هم هر سم ناسم کار ته په ناسمه سترگه یا د

بېځایه سنجش شوي شک په سترګه ګورو، د حالاتو د مدیریت په موخه پر خپله رهبرۍ بېباوري رامنځته کېږي او بالاخره ناوړه حالاتو ته د تسلیمېدو هوډ مو، پر یو نه ماتېدونکي هوډ بدلېږي.

په تاریخي ډول افغان مشرانو د نړۍ پر بېلابېلو جغرافیاوو، ژبو، کلتورونو او نژادونو مدیریت او واکمني کړې ده او په دغو سیمو کې یې د علمي، کاري او تجارتي زیربناوو په رامنځ ته کولو کې له بل هر چا زیات کار کړی دی، دوی نه یوازې دا چې داسې رول یې لوبولی چې په هغه کې یو پراخ نفوس او جغرافیه په اخلاقي، فزیکي او رواني ډول خوندي وه؛ بلکې پورته یادې شوې برخې موږ په بېلابېلو پېرونو کې په رواني ډول تغذیه کړې هم دي.

په دغو جغرافیو کې په پریمانه توګه د عامه وګړو د ژوند د هوساینې او ارامولو په موخه زیاتې اسانتیاوې وې، علم، هنر، موسیقي او نور خلاقیتونه د بشري ارزښتونو د تمثیل او تسهیل وسایل وو.

**پنځوس، شپېته کاله مخکې افغانستان هره شپه دوه نیم لکه بهرني سیلانیان لرل چې پرته له ډاره به یې د افغانستان له ښایسته طبیعته خوند اخیست، د هند هنرمندانو به په کلاسیکه موسیقۍ کې د خپلې بریا سند له کابله تائیداوه، د اسیا په کچه له عصري لیبونو څخه یو د کمپیوټر لیب په کابل کې رامنځته شو، کابل پوهنتون له څلوېښتو زیاتو هېوادونو محصیلونو ته د درس زمینه مساعده کړې وه ، د کابل پولیتخنیک پوهنتون د معنوي تغذیې ترڅنګ، د ظرفیتونو جوړولو په برخه کې اړین رول لوباوه او هغه مهال افغانستان له نړۍ سره تر ټولو ښه روابط لرل.**

دا هغه وخت و چې مختلفو فرهنګونو او مذاهبو په افغانستان کې دومره وده کړې وه چې د لوړې کچې تجارت او پانګونه افغان یهودانو او د منځنۍ کچې تجارت افغان هندوانو مدیریت کاوه. بانکي سیستم مو په نړۍ کې له یو معتبر او معاصر سیستم شمېرل کېده، فردي او ټولیز اخلاق له تاوتریخوالي پاک و او د خپل ګاونډ په ګډون د نړۍ له هر وګړي سره پر نړیوال ارزښت ولاړ و. افغانستان په سیمه او نړۍ کې ستراتیژیک ملګري لرل او هغوی د افغانستان د امنیت تضمینولو په برخه کې اساسي رول درلود. له دې خاورې نه یوازې د ترهګرۍ، وېرې، وحشت او تاوتریخوالي هېڅ ډول پېښنه نه ده رامنځته شوې او نه ترې چا ته تاوان رسیدلی بلکې له نړیوالو هم د نه مداخلې تضمین اخیستل شوی و. مګر له بده مرغه نن موږ د خپل خپلواک ملي او نړیوال رول په اړه له یو ډول ګنګستیا سره مخ یو او د خلاصون لوری راڅخه ورک دی. ددې تضمین د ترلاسه کولو په موخه اړینه ده چې زموږ رهبري او په ورته وخت کې ولس د خپلو ملي ادارو، بودجې او بنسټونو د مستقل ساتلو په موخه شپه او ورځ زیار وباسي، د خپلو دښمنانو او دوستانو پر رول او روش له سره کتنه وکړي، د خپلو مخکینیو او راتلونکو ستراتیژیکو ملګرو پر رول فکر وکړي، پر تېر کره کتنه وشي او د راتلونکیو ملګرو په اړه فکر وشي.

موږ باید پوه شو چې زموږ د ملګرو ملګري څوک دي او زموږ د دښمنانو دښمنان څوک دي، د ترور او تشدد د پای ته رسولو لپاره باید هغه څه ترسره شي چې په معاصره نړۍ کې ترې کار اخیستل کېږي چې تشدد پای ته رسولی شي او زموږ ملي حاکمیت یقیني کولای شي.

موږ باید د افرادو پر ځای د ملي ادارو پر پیاوړتیا تمرکز زیات کړو، ملي اداري د ضرورت پر بنسټ وارزول شي او ورته د اغیزناکو فعالیتونو د ترسره کولو په موخه واکونه ولېږدول شي، د دغو فعالیتونو له ترسره کېدو وروسته د ځواب او حساب ورکونې پر اساس د ادارو د لا پیاوړتیا لپاره اداري محاسبه ترسره شي.

په همدې ترتیب د خپل نړیوال تضمین په موخه له هغو هېوادونو او اولسونو سره اړیکې ټینګې شي چې د نړیوال نظم په جوړښت او مخکې وړلو کې اساسي رول لري، البته زموږ ټول روابط باید د افرادو پر ځای له بنسټونو او ادارو سره رامنځ ته او مستحکم شي، د دغو روابطو یوه ښه بېلګه له سترو اقتصادي بنسټونو سره کیدای شي؛ خو ولې دا هم څرګنده خبره ده چې د سترو اقتصادي، امنیتي او قضایي بنسټونو تر شا هم هغه ځواکونه دي چې نړیوال نظم یې رامنځته کړی دی.

**د یادونې وړ ده هغه څوک چې نړیوال نظم یې رامنځته کړی دی کولای شي چې په دې نظم کې د افغانستان د باثباته پاتې کېدو ماده ور اضافه کړي. دا کار د یوې کامیابې ډیپلوماسۍ او اوږد مهالې ګټې پر اساس شونی کیدی شي؛ خو بیا هم یوې ډېرې دقیقې محاسبې ته اړتیا لري. له موجودې کنګلتیا څخه د را وتو یوازینۍ لاره له دغو نړیوالو قوتونو سره صمیمانه اړیکې لرل دي. اما د دغو اړیکو د ټینګښت لپاره هم خپل شرایط دی. د دغو روابطو د پیلولو لپاره اړینه ده چې مقابل لوري ته د متقابل احترام او ګټو په چوکاټ کې معیارونه وټاکل شي او تعقیب شي.**

له دوی سره په ګډه د خپلو ملي ادارو د ظرفیت جوړونې په برخه کې لازم پروټوکولونه رامنځته کول پکار دي، خو که چېرې دا پروټوکولونه او توامیتونه پرته له سنجش لاسلیک کېږي؛ نو بیا یې له ګټې تاوانونه زیات دي. موږ د ناسم سنجش شویو تړونلیکونو ډېرې بېلګې لرو.

**خو له یو اوږدمهاله بحران څخه د را وتو اړینه لاره د رهبرۍ په کچه قاطعیت او په دویم ګام کې له ولس سره د اجراییوي قوي خالصه مینه لرل دي. دا ډول خالصانه مینه او لیوالتیا او ژمنه رامنځته کوي او دا ژمنه د افغانستان د ملي ګټو څخه د دفاع جذبه پیاوړې کوي،** د دې جذبې په پایله کې فردي- ځانځاني- ګټې معنا نه لري؛ بلکې هر څه افغانستان محوره کېږي او تر ډېره امکان لري چې د افغانستان رول په نړیوال نظم کې تضمین کړي.

د داسې یوه تضمین په رامنځ ته کېدو سره به د افغانستان هغه دښمنان چې هره ورځ د خپلو لاسپوڅو میلشو په مرسته ناوړه بشري جنایتونه ترسره کوي او افغانستان له شته فرصتونو لري ساتي، ترکنټرول لاندې راشي. د دغه دښمن له دښمن سره په ستراتیژیک ډول روابط مساعدول نه یوازې موږ قوي کوی؛ بلکې موږ د مشترک خطر له امله دې خطر ته په لا قوت ځواب ورکونکي ثابتوي.

**اما په داسې وخت کې باید د افغانستان امنیت پر یو ستراتېژیک امنیت بدل شي، د داسې امنیت د رامنځ ته کېدو لپاره اړینه ده چې قوي او اغیز لرونکي ملګري پیدا کړای شو، له بده مرغه موږ په تېرو دوه لسیزو کې اقتصادي، ستراتېژیک او امنیتي ملګري پیدا نه کړای شول او پر هغو قوتونو مو تمرکز زیات وو چې له موږ سره یې په خیرات اموخته کېدو کې مرسته کوله.**

نور بیا

# د بودیجې پر سر جنجال؛

## ولسي جرګې یو ځل بیا د بودیجې سند رد کړ



◆ **لیکنه: حسیب بهش**
◆ **ژباړه: م. ظریف صمیم**

ولسي جرګې د ۱۴۰۰ مالي کال د ملي بودیجې مسوده د رایو په اکثریت سره رد کړه. د ولسي جرګې غړي وايي چې په دغه مسوده کې ډېرې سرغړونې نه دي اصلاح شوې او حکومت آن څو نور موارد هم ورزیات کړي دي. د ولسي جرګې په وینا، حکومت د دولتي کارکوونکو د معاشونو د یو شان کولو موضوع د جرګې له خوا له تصویب سره سره، د مالي کال په بودیجه نه ده ورزیاته کړې. د ولسي جرګې غړو له دې مخکې خبرداری ورکړی، په بودیجه کې د دولتي کارکوونکو د معاشونو د یو شان کولو طرحې د نه شاملولو په صورت کې، د ۱۴۰۰ مالي کال ملي بودیجه نه تصویبوي. خو د مالیې وزارت وايي چې د ولسي جرګې د غړو نظریات او وړاندیزونه یې مالي امکاناتو او نافذه قوانینو ته په کتو په پام کې نیولي دي. د مسوولینو په وینا، حکومت د کارکوونکو د معاشونو د زیاتولو وس نه لري او معاشونه د ملکي خدماتو د قانون پربنسټ ورکول کېږي.

د ۱۴۰۰ مالي کال د ملي بودیجې دوهمه مسوده، د مرغومې په ۲۷مه د ولسي جرګې عمومي غونډې ته وړاندې شوه. خو د ولسي جرګې غړو دغه مسوده د وړاندیز شویو موردونو د نه اصلاح له امله د رایو په اکثریت سره رد کړه. په دې لړ کې په تالار کې د جرګې له ۱۳۵ غړو، یوازې ۱۵ غړو د ۱۴۰۰ مالي کال د بودیجې مسودې ته د تایید رایه ورکړه. د ولسي جرګې رییس میررحمان رحماني، په عمومي غونډه کې وویل چې حکومت د سرغړونو د اوولسو موردونو پر نه اصلاح سربېره، په دغه مسوده کې دوه نور موردونه هم ورزیات کړي دي. هغه زیاته کړه چې د دولتي کارکوونکو د معاشونو د یو شان کولو موضوع هم د ولسي جرګې له تصویب سره سره، د مالي کال په بودیجه کې نه ده شامله شوې. د ولسي جرګې د مالي چارو او بودیجې د کمېسیون غړو په بودیجه کې د انډول نشتوالی، د ملي دسترخوان پروګرام شاملول او د مالي کال په بودیجه کې ځینو ادارو ته پورونه او لوړې بودیجې بېلول د بودیجې د دوهمې مسودې د ردولو لاملونه بللي دي. ددغه کمېسیون منشي سیدعظیم کبرزاني، وویل چې د ۱۴۰۰ مالي کال د بودیجې په دوهمه مسوده کې د اصلاح لپاره د ولسي جرګې وړاندیزونو ته هېڅ پام نه دی شوی.

**پر اصلاحاتو په تېره بیا د معاشونو پر یو شان کولو ټینګار**

ولسي جرګې په دغه ناسته کې یو ځل بیا د ۱۴۰۰ مالي کال په بودیجه کې پر اصلاحاتو ټینګار وکړ. د ولسي جرګې د یو شمېر غړو په وینا، د بودیجې په مسوده کې لیکل شوي معاشونه او امتیازات عادلانه نه دي. په ولسي جرګه کې د هرات استازي حبیب الرحمان پدرام وویل چې د مالي کال بودیجه باید د معاشونو د نه یو شان کولو له امله رد شي. هغه

زیاته کړه چې ټیټ رتبه کارکوونکي له ډېر کاري فشار سره سره، لږ معاش اخلي، خو لوړپوړو کارکوونکو ته لوړ معاشونه ورکول کېږي. ښاغلي پدرام همداراز د ۲۲ زره ان تي اي بستونو په پام کې نیول او دغو کارکوونکو ته د میلیاردونو ډالرو ورکول د عامه شتمنۍ چورتالان وباله او زیاته یې کړه چې ددغو بستونو له لغوه کولو سره په یو وخت باید د هغوی امتیازات ښوونکو، سرتېرو او ټیټ رتبه کارکوونکو ته ورکړل شي. هغه همداراز، ولایتونو ته د بودیجې په بېلولو کې د نه انډول یادونه وکړه چې ځینې پروژې یوازې د کاغذ پرمخ دي او عملي بڼه نه لري.

په ولسي جرګه کې د سرپل استازي حمیدالله بېک هم د بودیجې پر مسودې اعتراض وکړ او وې ویل چې ددغه ولایت ځینې کوچنۍ پروژې په مسوده کې نه دي شاملې شوې. هغه همداراز ټینګار وکړ، ځینې اداري چې د ولسي جرګې له خوا نه دي تایید شوي، د ۱۴۰۰ مالي کال له بودیجې دې لغوه شي. ښاغلی بیک د معاشونو یو شان کول حتمي او اړینه چاره او د ولسي جرګې سره کرښه وبلله او زیاته یې کړه چې باید د ملي دسترخوان پروګرام د مالي کال له بودیجې لیرې شي. له دې مخکې ولسي جرګې د مرغومي په اوولسمه نېټه د دولتي کارکوونکو د معاشونو د یو شان کولو طرحه تایید کړه. دا طرحه د جرګې د دېرشو غړو له خوا وړاندې شوه او پر بنسټ یې باید د مامورینو، ښوونکو، متقاعدینو، اجیرانو او سرتېرو د معاشونو د یو شان کولو لپاره له ۹۱ او ۹۲ کوډونو، ان تي اي، سوپرسکیل او سي بي آر معاشونو څخه د دوی رتبو ته په پام سره معاشونه زیات شي.

**د ماليې وزارت: حکومت د معاشونو د زیاتوالي لپاره مالي امکانات نه لري**

د مالي کال د بودیجې د دوهمې مسودې له ردولو سره په یو وخت، ماليې وزارت وایي چې ددغې مسودې د برابرولو په بهیر کې د ولسي جرګې د غړو نظریات په پام کې نیول شوي دي. د ماليې وزارت د نشراتو آمر فردین معرفتي، د مرغومي په ۲۷مه نېټه ۸صبح ته وویل چې مالي امکاناتو او د هېواد نافذه قوانینو ته په کتو د بودیجې په مسوده کې د ولسي جرګې د غړو نظریات په پام کې نیول کېږي او حکومت د کارکوونکو د معاشونو د زیاتوالي وس نه لري. هغه زیاته کړه چې معاشونه د ملکي خدماتو د قانون پر بنسټ اجرا کېږي او همداراز د دولتي ادارو ټول امتیازات له منځه وړل شوي دي. ښاغلي معرفتي وویل: که حکومت ۴۵۰ زره کارکوونکي ولري باید د میاشتې ۴۵۰ میلیونه افغانۍ او د کال میلیاردونه افغانۍ په پام کې ونیسي چې د هغه په وینا، حکومت ددغو پیسو د ورکولو وس نه لري. ښاغلي معرفتي زیاته کړه چې د مالي کال د بودیجې په اړه د حکومت په کچه مشوره کېږي او پایله به یې په یوه اعلامیه کې بیان شي. د فردین معرفتي په وینا، کله چې د ولسي جرګې نظریات ماليې وزارت ته ورسېږي ددغه وزارت مسلکي کمیټه به یې په اړه کار پیل کړي. د ماليې وزارت مسوولین وایي، ترهغه چې مالي امکانات ماليې وزارت ته اجازه ورکړي، د جرګې نظریات به په پام کې ونیول شي.

د وېلو ده چې د ۱۴۰۰ مالي کال د بودیجې لومړۍ مسوده د لیندۍ په اوولسمه نېټه ولسي جرګې ته ورسېده. د ولسي جرګې د مالي چارو او بودیجې د کمېسیون له څېړنو وروسته یې د مرغومي په لسمه نېټه د بودیجې مسوده د جرګې عمومي غونډې ته وړاندې کړه، خو دا مسوده په ځینو دلایلو رد شوه. د بودیجې په دوهمه مسوده کې، د ماليې وزارت شل میلیارده افغانۍ پر بودیجه ورزیاتې کړي. د ۱۴۰۰ مالي کال ټوله بودیجه ۴۷۳ میلیارد ډالرو ته رسېږي چې ۳۱۱ میلیارده او ۱۹۹ میلیونه عادي بودیجه او ۱۶۱ میلیارده او ۸۴۲ میلیونه پراختیایي بودیجه ده. په دې لړ کې، د بودیجې دوهمې مسودې هم د ولسي جرګې د غړو قناعت ترلاسه نه کړ. له دې مخکې ولسمشرۍ دفتر په بودیجه کې اصلاحات راوستل د جراییه قوي صلاحیت وباله او جوته یې کړه چې ولسي جرګه باید ملي بودیجه په ټولیزه توګه تایید یا رد کړي.



# ولسمشرغني: د دولتي کارکوونکو د معاشونو برابرۍ طرحه دې وارزول شي



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ راپور: محمد عزیز پردېس

د افغانستان مالي وزارت د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ويلي دي، چې د ماليې وزارت د ۱۴۰۰ مالي کال ملي بوديجې د مسودې په اړه د ولسي جرګې د وړانديزونو ستاينه کوي.

په خبرپاڼه کې ويل شوي، چې ولسمشرغني درې مياشتې مخکې د دولتي کارکوونکو د معاشونو د برابرۍ موضوع د کابينې په غونډه کې مطرح کړې وه.

د ماليې وزارت وايي چې د افغان دولت کابينې د روان کال د لړم په ۱۴مه نېټه ماليې وزارت او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کميسيون ته د معاشونو د برابرۍ طرحې برابرولو دنده وسپارله او همدارنګه ټينګار پر دې وشو چې له غير اړينو او تجملي لګښتونو سپمول شوې بوديجه دې د خلکو د هوساينې په موخه په پراختيايي چارو ولګول شي او د ښوونکو په ګډون د نورو دولتي کارکوونکو د معاشونو زياتوالی او برابري هغه مشروع غوښتنه ده چې د مالي امکاناتو له روښانه او عملي مالي تحليل پرته يې پوره کول ناشوني دي.

د ماليې وزارت په خبرپاڼه کې همداراز راغلي دي چې د ولسمشرۍ ماڼۍ په لارښوونه د اړوندو ادارو ګډې کمېټې ته دنده سپارل شوې چې د معاشونو د لوړوالي امکان وارزوي او د اړتيا وړ سرچينو د تشخيص او برابرولو په اړه خپل عملي وړانديزونه د کابينې غونډې ته وړاندې کړي.

د دولتي کارکوونکو د معاشونو برابرول له هغو بحث پاروونکو موضوعاتو څخه دی چې په دې ورځو کې د رسنيو د خبرونو سرټکي جوړوي.

د ولسي جرګې استازي ټينګار لري تر هغه چې د دولتي کارکوونکو د معاشونو د برابرۍ موضوع حل نه شي، دوی به د ۱۴۰۰ مالي کال بوديجه تصويب نه کړي.

# په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې یو شمېر سرتیرې له پوځې زده کړو فارغ شول

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ حفیظ الله علي خېل - ننګرهار

په ختیځ کې د سېلاب قول اردو له خوا د سیمه ییزې اردو ۴۳۵ سرتېرو په ننګرهار کې د ملکي هوایي ډګر د ساتنې او د کوټ، اچین او دُربابا ولسوالیو د امنیت د خوندیتوب په موخه دنده پیل کړه.

چارواکي وایي چې دغه سرتېري د افغان روزونکو له لوري له کابو دوه میاشتنیو زده کړو وروسته فارغ شول.

د ۲۰۱ سېلاب قول اردو قوماندان برید جنرال عبدالجبار وفا په دې اړه جوړه شوې غونډې کې وویل چې دغه پوځیان په مسلکي ډول روزل شوي او په ټاکل شویو سیمو کې به دنده ترسره کړي.

نوموړي همداراز ډاډ ورکړ چې دوی به د ملي اردو له بشپړو امکاناتو او ملاتړه برخمن وي .

د ننګرهار د والي مرستیال ببرک میاخېل وویل چې فارغ شویو پوځیانو تر دې وړاندې د دغه ولایت په ولسوالیو کې د سیمه ییزو پولیسو په توګه دندې ترسره کوله چې د سیمه ییزې اردو په لیکو کې جذب او له زده کړو وروسته به ژر په خپلو ولسوالیو کې دندې ترسره کړي .

په ختیځ کې د ولسي ملاتړ پروګرام مشر سیدالرحمن مومند ډاډ ورکړ چې د سیمې خلک به له دغو ځواکونو سره بشپړه همکاري کوي او همداراز یې د قول اردو له خوا د دوی په پوره ملاتړ کولو ټینګار وکړ.

فارغ شوي سرتیرې تسنیم یار مومند د زده کړو په اړه خوښي وښوده، هغه له نورو ځوانانو وغوښتل چې د امنیتي ځواکونو په لیکو کې د دندې ترځنګ هېواد ته په صادقانه ډول د خدمت ژمنه وکړي.

د ننګرهار په ګڼ شمېر ولسوالیو کې دمګړی د سیمه ییزې اردو ځواکونه ګومارل شوي، چې له نویو فارغ شویو سرتېرو څخه به نیمایي یې د هوایي ډګر د ساتنې چارې مخ ته بیايي او پاتې نور د کوټ، اچین او دُربابا ولسوالیو د امنیت د خوندیتوب په موخه استول کېږي.

له بلې خوا، په کونړ ولایت کې هم د سیمه ییزې اردو په چوکاټ کې ۱۸۰ سرتېري له زده کړو فارغ شول.

دغو سرتېرو له دې مخکې د سیمه ییزو پولیسو په لیکو فعالیت کاوه چې اوس د ۲۰۱ سېلاب قول اردو له خوا د سیمه ییزې اردو په چوکاټ کې له پوځې زده کړو فارغ شول.

د دوېمې پلې لوا قوماندان جنرال رحم دل وایي چې دغه پوځیان به په خاص کونړ، څوکۍ، نرنګ او مروړې ولسوالیو کې ځای پر ځای شي. د کونړ والي محمد اقبال سعید وویل چې سیمه ییزو پولیسو د ولسونو په همکارۍ مهم رول لوبولی چې د سیمه ییزې اردو په چوکاټ کې به ددغو سرتېرو لپاره لازیاتې آسانتیاوې برابرې شي.

په دغو مراسمو کې دیني عالم مولوي نجیب الله حقیار هم ددغو ځواکونو د هڅو ستاینه وکړه.



# د نورستان بې ځایه شوې کورنۍ له ګڼو ستونزو سره مخامخ دي



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ حفیظ الله علي خېل

دغه بې ځایه شوې کورنۍ وايي چې د ناامنیو له امله د خپلو سیمو پرېښودلو ته اړ شوې او له ګڼو ستونزو سره مخامخ دي.

د مسوولینو په وینا دغه بې ځایه شوې کورنۍ یوازې له ناامنیو نه بلکې د کار و بار او اقتصادي ستونزو له کبله کډه شوې دي. د مسؤلینو په خبره له کډوالو سره په خپل وخت مرستې شوې او په راتلونکې کې به هم ورسره مرستې وشي.

د نورستان کامدېش، برګمټال، وانت ویګل او دواب هغه ولسوالۍ دي چې وګړو یې خپلې سیمې پرېښې او مرکز پارون، واما او آن کونړ ولایت ته کډه شوي دي.

دوی وايي چې د ناامنیو له امله له خپلو سیمو را کډه شوي او تراوسه چا ورسره مرسته نه ده کړې.

فضل امین چې واما ولسوالۍ ته را کډه شوی وايي: «له نورو ولسوالیو واما ولسوالۍ ته خلک مهاجر شوي، دلته له معلومو وګړو سره مرستې کېږي، مرسته شوي توکي په خپلوانو وېشل کېږي، له یوې کورنۍ د لسو تنو نومونه لیکلي وي او هغوی ته مواد ورکول کېږي، اصلي مستحقو کورنیو ته مرستې نه ورکول کېږي.»

ځینې بې ځایه شوي زیاتوي چې مسؤلین له دوی سره توپیري چلند کوي. په دغه ولسوالۍ کې د کډوالو شورا رییس عظمت الله هم وايي چې د مرسته شویو توکو په وېش کې توپیري چلند کېږي، نوموړي وویل: «په واما ولسوالۍ کې تقریباً ۳۳۰ کډوالې کورنۍ اوسېږي، مرستې راځي، د مهاجرینو رئیس د خپلو اولادونو او خپلوانو نومونه ورته لیکي، هغوی ته توکي ورکوي، خو موږ چې بې کوره او بې وسه یو موږ ته مرستې نه راکول کېږي.»

له بلې خوا، د نورستان ولایت ځايي مسوولین له بې ځایه شویو سره د توپیري چلند خبره ردوي او وايي، چې واما ولسوالۍ ته راغلي کډوال یوازې د ناامنیو له امله نه، بلکې د اقتصادي ستونزو له کبله بې ځایه شوي دي.

د نورستان والي ډاکټر عبدالغفور ملکزی وايي: په بېلابېلو لاملونو له شاوخوا ولسوالیو کابو ۲۵۰۰ کورنۍ بې ځایه شوې او دغه راز له پاکستان څخه هم یو شمېر کورنۍ بېرته راستنې شوې چې په خپل وخت ورسره مرستې شوې دي.

د نورستان د والي په وینا له زمري میاشتې راهیسې یې له بې ځایه شویو سره درې ځله مرستې شوې، له ۹۵۰ کورنیو سره نغدي مرسته شوې چې هرې کورنۍ ته لس زره افغانۍ ورکړل شوې او همدا راز د بې ځایه شویو کورنیو لپاره څه کم ۸ میلیونه افغانیو مرسته په پام کې نیول شوې چې له قانوني پړاوونو ورسته به ورکړل شي.

د نورستان والي وايي چې د بې ځایه شویو کورنیو لپاره د مرستو جلبولو په موخه یې د بېلابېلو ادارو له مسوولینو سره کتلي او دغه مرستې هم کافي نه بولي.

نوموړي زیاتوي، داسې پلانونه لري چې له مخې به یې هغو کډوالو ته لازمې اسانتیاوې رامنځته کړي چې نه غواړي په لنډه موده کې بېرته خپلو سیمو ته ستانه شي.

د واما ولسوال سیف الاسلام ۸ صبح ته وویل: هغه شمېر چې ویل کېږي، دومره کورنۍ دلته نه دي کډه شوې ځکه او اوس د کونړ او نورستان زیاتې سیمې امنې شوې خو ډېر شمېر یې د کاروبار لپاره کډه شوي دي.

د ده په خبره، دې ولسوالۍ ته ورغلي کډوال له ۵ تر شلو کلونو راپدېخوا دلته مېشت دي چې لږ شمېر یې امنیتي ستونزې لري خو ګڼ شمېر یې په ورځنیو اقتصادي چارو بوخت دي.

عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.











## د افغانستان زعفران؛ په لومړي مقام کې پاتې شول!

د دري طلايي ستوريو مقام دې، ټولو هغو خويندو وروڼو ته مبارک وي، چې په دې سختو شرايطو کې، له تشي خاورې نه، سره زر را زرغونوي!

Hasht e Subh Magazine
Yesterday's Narrative Today's Mirror Tomorrow's Hope









عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

يونسيف: د افغانستان په خوارځواکۍ اخته ماشومانو، سم نيمايي  به يې د ټول‌عمر خوارځواکۍ، له ننښو کړېږي!

نو: بانکونو کې، بې‌کاره پرته پانګه، چې نه د چا نس مړولاې شي او نه جسمي- رواني رنځ، لېرې کولاى شي، ټوله خوسا ده!

اوس وګورئ، د داسې پانګې معتبره شمتن، په څه ډېرانونو ناست دي!!!